World Bank Group
Multilateral Investment
Guarantee Agency

# اطلاعاتي خپرونه

2007/102

## د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) د افغانستان اقتصادي وده او بیاودانولو سره مرسته کوي

**واشنگټن، ډي سي، د ۲۰۰۶م کال د اکتوبر دمیاشتې دویمه نیټه:** د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) ،د نړیوال بانک غړې، نن وویل چې، دغه نمایندگي په افغانستان کې د دوو نویو پانگه اچونو په برخه کې مرسته کوي، تر څو دکوچنۍ سوداگرۍ لپاره د مالي وجهو او پانگو کمښت حل او فصل شي او د لږ ارزښت درملو اړتیاوې، پوره شي.

د دغې پروژې مسوولیت د افغانستان د پانگه اچونې د تضمین (AIGF) په غاړه اخیستلې دي، تر څو د هغه په ترځ کې په هیواد کې بهرنۍ مستقیمه پانگه اچونه وهڅول شي. دغه پروژه چې د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) له خوا اداره کیږي، په گډه توگه د نړیوال بانک، د نړیوالې پرمختیایي ټولنې، د افغانستان دولت، برطانیې او د آسیا پرمختیایي بانک له خوا تمویلیږي. جرمني د دغې پروژې د تطبیق لگښت برابروي.

ښاغلې یوکیکو اومورا، د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) اجرائیوي مرستیال داسې وویل: د بیا ودانولو د فعالیتونو لپاره او په اوږد مهاله موده کې د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختیا دپاینښت لپاره د بهرنۍ مستقیمې پانگه اچونې راجلبول غوخ اهمیت لري. د پانگه اچوونکو له خوا د خطر د زغملو نظریه د پانگه اچونې په برخه کې یومهم خنډ دی. د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) د خطر دکمولو وسیلې د پانگه اچونې په تامین کې خپل رول ادا کوي،هغه چې د جگړې څخه وروسته په هیواد کې د خنډونو په پام کې نیولو سره خورا مهم دي.

له دوو لسیزو جگړو څخه وروسته، افغانستان په ټولنیز، اقتصادي او سیاسي برخو کې بشپړ بدلون پیل کړی دی. له ځینو لمړنیو بریاوو برسیره، لاتر اوسه هم یو شمیر زیات خنډونه په خپل ځای پراته دي. کاري ظرفیتونه نابرابره کیفیت لري او په هراړخیزه توگه کمزوري دي، اساسي کړنلارې او سیستمونه، او د هیواد زیاتې برخې د جگړو له امله زیانمن شوې دي. نن د افغانانو غټ اکثریت په ډیري سختي بیوزلۍ کې ژوندکوي، پرته له دې چې د څښاک اوبو او بریښنا او یاداسې کاري فرصتونو ته لاس رسیدنه ولري. د بیا رغونې اړتیاوې ډیرې زیاتې دي او د خصوصي سکټور پرهغو مرستو تاکید او ټینگار کوي چې کولای شي خنډونه له مینځه یوسي.

د پانگې اچولو د تضمین اداره (MIGA) مرستې د پانگه اچونې د تضمین لپاره، چې په مجموعی توگه ۲،۴۳ میلیونه FNالره کیږي، په دوه بڼو او ډولونو برابریږي: لمړی تضمین ۲ میلیونه ډالره لري چې په برک افغانستان بانک کې د کیمن د ټاپوگانو د نړیوال شرکت شورکپ له خوا ساتل کیږي. دغه تضمین تر اوو کالو پورې پانگه له هغو خطرونو څخه خوندي ساتې چې د پیسو د انتقال او لیږدوني د محدویتونو، د مالکیت د سلب، د جگړې او داخلي اله گولې (په شمول د ترهگرۍ) له امله رامنځ ته کیږي.

په دغې پروژه کې د برک افغانستان بانک د جواز اخیستل شامل دي، او دغه بانک د هیواد کوچنیو او منځ مهاله متشبثینو لپاره کریډت او نور مالي خدمتونه به برابر کړي، د پور ورکوونکو په شرایطو کې د مارکیټ د په سلو کې ۷۰ ونډې سره سره – چې په نړۍ کې د مایکرو فایننس ډیر لوی عملیات دي.

دبرک افغانستان بانک په ټول افغانستان کې پورونه او د سپما محصولات متشبثینو او کوچنیو سوداګرو ته برابروي. په کلیواله جګړه ځپلو سیمو کې دکاري فرصتونو د کمښت له امله، د دندو نشتوالی، په کلیوالي سیموکې د عامه سکټور له خوا د کمې تادیې د دې سبب ګرځیدلی چې یو شمیر زیات خصوصي متشبثین رامنځ ته شي، هغوي چې زیاتو کریډتونو ته اړتیالري.

ښاغلي پاول کریستنسین، د شورکپ د نړیوال شرکت رئیس داسې وویل: نوی بانک به خپله پاملرنه هغه ټکي ته واړوي چې کوچني او منځ مهاله متشبثین داسې پانګې ته لاس رسیدنه ولري چې د مایکرو فایننس مروجو پروګرامونو لپاره ډیر لوی وي، خو نه دومره لوی چې په افغانستان کې د موجوده سوداګیریزو بانکونو له خوا برابر شي. موږ له برک افغانستان بانک څخه دا طمع لرو ترڅو په بنګله دیش کې، د شورکپ بل شرکت، د برک د بانک بریاوې، هلته چې د پور اخیستونکو شمیر ۵۰۰۰۰ تنو ته رسیږي، تکرار کړي. خو موږ پرته له دې چې هغه خطرونه کم کړو چې د پانګې اچولو د تضمین اداره (MIGA) له کنترول څخه وتلې وي، مخ په وړاندې حرکت نه کوو.

په دویم تضمین کې د درملو جوړولو د شرک تأسیس شامليږي هغه چې د باز د نړیوال درمل جوړولو د شرکت په نامه یادیږي. دغه شرکت په سیمه ییزه کچه د اړتیا وړ درمل تولیدوي چې هغه په افغانستان کې د درملو د کیفیت د ښه والې او د اړتیاوړ درملو ته د لاس رسیدنې په برخه کې مرسته کوي.

روغتیایي سکټور په افغانستان کې بیرته پاتې دی. د ضروری درملو د کمښت له امله، ځینې ناروغتیاوې، لکه د تنفس حاده ناروغتیا ، نس ناسته، سینه بغل او تایپود د افغانستان د خلکو ترمنځ د خپریدو په حال کې دي.

د MIGA څخه ښاغلی اومورا داسې وویل: دغه پروژه په ربښتینې توګه په پام کې لري چې د افغنستان د خلکو د ژوند کیفیت ته ښه والی ورکړي. دغه کارخانه د افغان جګړې د پای څخه وروسته لمړی نوښت دی، چې په سیمه ییزه کچه د لمړنیو درملو تولید بیا پیل کوي. دغه کارخانه د بیا ودانولو د پروژو یوه ځانګړې شوې پروژه ده چې د سیمه ییزو متشبثینو په ملګرتیا سره د نړیوالې ټولنې له خوا د افغانستان د بهسټیزو جوړښتونو د بیا رغونې لپاره رهبری کیږي.

د درملو په شرکت کې د MIGA تضمین د ژینو د غیر انتفاعي د ټرون پر بنسټ د دریو کالو تر مودې پورې تر ۴۸. ۰ میلیونو دالرو پورې تر پوښښ لاندې راولي. په دغه پژوژه کې افغاني خصوصي پانګه اچوونکي، ډاکتر کریم باز، په کابل د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، د اروپا د جنریک درملو جوړولو ټولنه، او د جرمني د مالي پرمختیا مؤسسه ونډه او برخه اخلي.

دغه پانګه اچونې چې د دویمو او دریمو معاملاتو څخه استازیتوب کوی، تر اوس مهاله د افغنستان د پانګه اچونې د تضمین د آسانتیاوو له خوا تمویل شوې دي. هغه لمړنۍ موافقتنامه چې د مالي وجهې له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې هغه د ۰۷. ۱ میلیونو ډالرو پانګه اچونه ده ، چې د کرنې په برخه کې د فرانسوي پانګه اچونکي، ښاغلي داګریس له خوا د ۲۰۰۶م کال د فبرورۍ په میاشت کې تر سره شوې ده. اورجان هلند ، د AIGF د پانګه اچونې آمر داسې وویل: په افغانستان کې ډیر ستونزمن شرایط موجود دي، خو د د پانګې اچولو د تضمین اداره په دې خوښه ده چې سږ کال توانیدلې چې د خدمتونو له لارې درې پانګه اچونې تمویل کړي.

---

د پانګې اچولو د تضمین اداره (MIGA) په ۱۹۸۸م کال کې د نړیوال بانک د ګروپ د غړي په توګه رامنځ ته شو، ترڅو په اقتصاد کې بهرنی مستقیمه پانګه اچونې ته د اقتصادي ودې، د بیوزلۍ د کمولو، او دخلکو د ژوند د ښه والي لپاره پراختیا ورکړي. د پانګه اچونې د نمایندګۍ د ودې لپاره د تخنیکی مرستې د برابرولو برسیره، MIGA دغه دستور د سیاسي خطر د بیمې د وړاندې کولو له لارې پانګه اچوونکو او پور ورکوونکوته (د مالکیت د سلب بیمه، د قرارداد ماتول، د پیسو د انتقال محدودیت، جګړه او داخلي اله ګوله) برابروي. د MIGA د پیل څخه را په دې خوا، *MIGA څه نا څه ۸۵۰ تضمینونه د پروژو لپاره په ۹۲ مخ پر ودې هیوادونو کې چې مجموعاً یې ۱۶ میلیاردو ډالره ترپوښښ لاندې نیولي، صادر کړي دي. د MIGA ټوله پانګه ۵،۳ میلیارد ډالرو ته رسیږي.*